PRESS INFORMATION
THE EUROPEAN UNION SPECIAL REPRESENTATIVE IN AFGHANISTAN
THE EUROPEAN UNION DELEGATION TO AFGHANISTAN

اروپايي ټولنه د ملکی افغانانو د وژنې د چټک پاې غوښتونکي دي

کابل- د 2016 کال د جولای 25

په افغانستان کي د ملکی تلفاتو په اړه د يوناما د 2016 کال د لومړۍ شپږو مياشتو راپور يوه بده انځور وړاندې کوي. دغه راپور د 2009 کال نه را په دی خوا د ملکی تلفاتو تر ټولو لوړه کچه ښيي. تر هغه نه زياد د اندېښنې وړ دا ده چې د دغه تلفاتو يو په دري برخه يي ماشومان دي چې 2009 کال نه را په دې خوا د ماشومانو د تلفاتو تر ټولو لوړه کچه ښيي.

اروپايي ټولنه د دغه راپور د پايلې او په ځانګړي توګه د ماشومانو د تلفاتو په اړه اندېښمن دي. اروپايي ټولنه په جګړه کي له ښکيلو ټولو خواوو څخه غواړي چې د ملکی تلفاتو د مخنيوۍ په موخه خپل ټولې هڅې وکړي او په هغو سيمو کي چې د ملکی تلفاتو امکان شته د عملياتو له ترسره کولو څخه ډده وکړي.

په افغانستان کي د اروپايي ټولنې ځانګړي استازي او د پلاوي مشر فرانز مايکل ميلبن وايي: " په افغانستان کي د ملکی تلفاتو زياتيدونکي کچه يوه لويه اندېښنه ده. په کابل کي د شنبې په ورځ د ملکی اعتراض کونکي باندې برید دا وښوده چې دغه شان پرته له توپير بريدونه يواځي او يواځي بيګناه افغانان وژني او يا ټپيان کوي. دغه شان کړنې د نړيوال قوانينو واضح نقض کول دي او بايد په چټکه ودرول شي. "

د يوناما ګزارش د 1601 ملکی کسانو وژل کيدل چې 507 ښځي او 388 ماشومان په کي شامل دي ثبت کړي ده. ځمکنۍ عملياتونه په لومړۍ ګام او انتحاری او ماينونه په دوهم ګام کي د ملکی تلفاتو ستر عامل په توګه پيژندل شوي دي.

لاډيرو معلوماتو لپاره:

د اروپايي ټولنې پلاوی
د رسنيو سلاکار
عبدالله يادګاري
ټليفوني شمېره: 548 173 700 (0) 93+
برېښنالیک: abdullah.yadgare@eeas.europa.eu